HOWD

# د غنی خا ن د شعرونو بیلګی

## ای زمــا وطنه

ای زمــا وطنه د لعلونو خـــــزانې زما
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما
ستا سر چې وي ټيټ نو به زه شان او شوکت څه کړمه
ته چې خوارو ځار يې زه به مال او دولت څه کړمه
ته چې وران ويجاړ يې زه به خوب او راحت څه کړمه
مسته به دې خاوره کړم په مينه مستانې زما
ای زما وطنه
عقل مې ايرې شه ستا لپاره د فکرونو نه
سترګي مې قربان شه ستا لپاره د سوچونو نه
ځار شمه قربان شم ستا د خاورو د کورونو نه
ستا زړه کې پرتې دي ټولې تلې زمانې زما
ای زما وطنه
يا به دې زه سيال کړمه وطنه د جهان
يا به ستا په پښو کې تورې خاورې کړمه ځان
ځان به درې وړې کړم خو تا به کړم ودان
نر يمه، پښتون يم تاته يادې افسانې زما
ای زما وطنه

## مخ د جانا ن

کله مخ زه په قبله کړم کله کـــړم مخ و جـانـــان تــه

هيخ په فرق يې پوه نه شوم ربه! خير مې کړې ايمان ته

هـغـه ورځ چــه خلق پــيـذا شو دخالـق په تجـلأی شــــو

HOWD
هود

زه وم پروت مخمور مشکوره په سجده مخ دجانان ته

اوس زما په بیکسی کښی د مستې لمغړی وینې

زه دمځکی قابل نه وم ولی تا بوتلم آسمان ته

د خبرو یې خوک نشته خان سره غنې ګو نیرې

لیو نی یې هله بولې چه یې وګورې جا نان ته

## خان

خان راخیستي دي ملا پسي خو باړي    خپل کور سم کړه څه پر دي غمونه ژاړی

بل ته وائي د حرص وباسه غاښونه    او پخپله سوان په لاس تیروي داړي

تل وطن پخپله وران کړی بل بدنام کړي    ملایان دې کړل قارغان خواري خراړي

چه پخپله په بیه قام خرخوي ته    بیا په کوم مخ په ملا کوي پیشاړي

چه پخپله دي مخ کال کښي نئ ویځلي    بل ته مه وایه زړګیه چه پواړي

ته اول دصاحب پریږده سلامونه    بیا په ده سرسایه پریږ ده په دلاړي

د غني نصیحت واوره اوس ځان بسم کړه

خولي له نه راځي بیابیاتو کلي لاړي

شاعر

پرچه د شهبا زلری او ستر ګې دعقاب

زړه پوست دبلبل خوړی خبرې د ښارو

سر ډ ک د خوبونو لکه مینه د قا رون

سترګی مینه ناکې مستې ستر ګې دمجنون

چل د سامرې او پاکې ګوتې دموسی

تور دغم صلیب په سپینولو دعیسی

تن ئې سرربا ب چه دقسمت ګوتو کښې هنګ کوې

خوله یې دګونګرو چه دجانان پښو کښې شرنګ کوې

دي دې ګوتې پورته کړې نامه دی دیار ولیکې

څه چه قلم نه لیکې هغه دی خمار ولیکې

HOWD

## زه

زمـــا بخت د شمع بخت دي يا به مرمه يا به سو ځم

يا به ويښ له ده درياب ځم يا به پاس په چپو خوځم

عــجـــب زه عــجــبـه لاره عجيبه كاروان روان دي

مــارسوتي پړاؤ له بيا ئي كه زه ځمه او كه نه ځم

## غم

كه زه نه يم خوشحالي بــــــه چيـرتــه وي

كه خزان وي مالي بـــــــه چيــرتــه نه وي

كه بدرنګ لاړل خو شرنګ به واړه ورک شي

كه ټيكري نه وي كالي به چيرتـــــــه نـــه وي

د ا للّٰه هريو قدرت د حكـــــمت ډک دي

دانسان عقل لانه پو ئيږي هــلک دي

## اي زړه

اي زما د زړه بلبــــــله ولـي ژاړې

ولي څه پسي خپه يې څــه شي غواړې

څه دپاره دي بوستان د عشرت پريښود

څه دپـــاره دي غـــــمونو لټي جاړې

راته ښكاري جوړي بيا ئي شيدا شوي

ځكه نه وهي نغمي ګوټ كښي ولاړې

دا ته څه وي چه يــورپ كښي دلبري

درقيب ياري كړه جـــوړه چه ته لاړې

دا يورپ دي جينكو كــښي وفا نشته

بي وقوفه ته د مړونه مـستي

## د عشق نور

د أسمان دســــــوري لانــــــدي

اود ستور د مشغولا کـــــــــښي

د يخ سيند په غاړه نـــــاست وو

دوه ياران مشغول ســــلا کښي

د سپوږمــــي زړه شو خوشحاله

په خـــنــداي لاس کړ پـــــوري

د عشق نوري هر خوا خور کــــړ

په بلبل کښي په لالا کښـــــــي

خوشحالي وزري وکــــــــړي

چه دزړه دباغ سيــــــــل وکړي

او دا دواړه ياران شــکل کړي

د سرو ستورو مشغولا کښي

## پلوشه

چه پخواني وو څه وزيران

وي به ئي ړيري لوي مچان

ته راشه ګوره دا دخداي شان

چه نيم لغړ دي او نيم ګنجيان

## پلوشه

د جهان خبـــــــــري ګوره

بيل به نکړي سپين له توره

اي غني ګيله تري مه کړه

شوه ړنــــــده دنيا شبکوره

HOWD هوډ

## ورو ورو

ورو رو ظالمه دا چـــــغي نــــــــاوري
ورو رو پري پښي ږده دانه دي خـاوري
د اخو ستـــــــــي دي دا خو ځواني دي
سپيني دي کـــــوکـــي لـکه دو اودي

## دنياګي

دنيا ګئ څه ده غم او غوغا څه ده
ســــــــوي داور سوز او سودا ده
ليوني وائی يــــــاره خــــره داده
چا جوړکړي ځان له ښه مشغولا ده

## دعآ

ای دحسن اونور دريابه! ما له يو ټکې دنـــــــــور را
سترګې ډکې دخندا را شونډې ډکې دســـــــــرور را
زه دې خپل وړوکې زړګې له يوه نښه ديار غـــــواړم
ای دحسن او نور دريابه ماله يو ټکې دنـــــــــور را
دې تک تور دغم محل په يو بخرى درڼـــــــــــا را
سترګې ډکې دخندا را شونډې ډکې دســـــــرور را
دی‌مستې او دی ارمان له يو تصوير دجانان راکړه
ستا په مينه نازيدل راستا په ښکلې مخ غـــــروررا
دې داخودسوې باغچې له يوه وعده دبهار غـواړم
زه دا نه وايم چه جنت را  زه دانه وايم چه طـــــور را
ددی خوب دسا اووخت اشاره دتعبير راکــــــــــړه
ماله زړه دپادشاهانو او سينه دفقير راکـــــــــړه

# خوانه

سوی باغ تـــــــــالا ګلشن دې

مړاوی ګل خاوری چمـــــن دې

نه بلبل نه لولـــــــــکې شــــــته

نه نرګس نه یاسمـــــــــــــــن دی

دا ګلاب دې ایرې شــــــــــوې

که پـــــه اور ســـــوی ختن دې

ای پښتونه !ستا وطـــــــن دې

ای پښتونه ستا وطـــــــــن دې

ددی باغ خاوری ړ واخـــــــــله

ترینه نوی بوستان جـــــوړکړه

ای د سوی بـــــــــاغ ملیــــاره

دنورونو جـــهـــان جـــــــوړکړه

ای ښکته ښکته ګـــــــــــورې

نن پښې ابله ســــــرســــر تورې

ته خبر یې چه ته خـــــوک وې

ته د منځ آسمان وی ستـــورې

ستا شمله به چه شوه پــــورته

شوې به ښکته شملی نـــــورې

په مستی او ننګ به ســــروې

ستا دا ټیټې سترګې تــــــورې

ای دټیټو سترګوخـــــــــوانــه

پاڅه هغه جهان جـــــــوړکــــړه

ددی باغ خاوری راواخـــــــله

هود
HOWD

ترینه نوی بوستان جــــــــوړ کړه

ای د وران خپر میــــــــــرمنــې

ای دوړې بچـــــــــې پــــــــــلاره

بی درکه سرګــــــــــــــردانــــــــه

ای دسوې بـــــــاغ ملیــــــــاره

ای چه نن بربنډبچې ســــــــتا

دخوراک کــــــــشالــــــــــه دې

ستا دلاس مـــــــانـــې ولاړې

په ډهلې په بنــــــــګــــــاله دې

ای د بل د در مـــــــــریـــــــــده

پاخه هـــــــــــغه دوران جوړکړه

ددی باغ خاوری را واخـــــــله

تریـــــــنه نوی بوستان جوړکړه

ای په غره په سرد دروکـــــښ

په باغونو په میـــــــــروکـــښې

په جندول کی په تیـــــــراکې

زمـــــا لال په ایـــــــــــروکښې

ای دزرکو پــــــــه خنداکښې

د تنزرو په نـــــــــارو کـــــــــې

دشیــــــــــــــرشاه نازبینه زویه

ته یې پروت تورو تیارو کښې

کړه دغم تیــــــارې را غونډې

ترې دمیـــــــنې داستان جوړ کړه

ددی بــــــــاغ خاورې راواخله

تری نه نـــــوی بوستان جوړکړه

# په غمونو

نه ربّ د چا ربّ و

نه بنده د چا غلام و

بس يو بې پايانه عاشق

ورک په خپل خمار ک

خوب

خوب د خپل وصال و

خيشته شونډو د يارکی

په غمونو کې خندا کړه

په خندا کې غم هېر نکړې

او د ډېرو په خندا کې

چې قيمت د کم هېر نکړې

د وصال په لمغړو کې

د فـــراق ستم هېر نکړې

دا چې ته يې سترګو ته خاندې

ددې سترګو غم هېر نکړې

د الله پـــه شـــور کـې

چـــې صنم صنم هېـر نکــړ

www.howd.org